IOM UN MIGRATION

# د بې اسناده افغان کډوالو راستنېدنه
## اونیز راپور
## ۱۶ - ۲۲ اپریل ۲۰۲۱

## اړین ټکي-۲۰۲۱

د روان کال ۲۰۲۱ جنورۍ میاشتې د شروع څخه تر دا مهاله له ایران او پاکستان څخه ټولیزه راستنېدنه- ۳۴۵،۳۶۶ وګړي.
په ۲۰۲۱ کې له ایران څخه ټوله راستنېدنه ۳۴۱،۰۸۶ وګړي.
په ۲۰۲۱ کې له پاکستان څخه ټوله راستنېدنه ۴،۲۸۰ وګړي.

د تیرې اوونۍ په جریان کې له ایران څخه ۲۶،۴۹۲ بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۳٪ (۷۳۷ وګړو) سره مرسته شوی ده.

د تیرې اوونۍ په جریان کې له پاکستان څخه ۸۵بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ٪۹۹ (۸۴وګړو) سره مرسته شوی ده.

**د بې اسناده راستنیدونکو کډوالو سره د کډوالی نړیوال سازمان په وخت مرستې**

**د کډوالو روغتیا:**

۲۰۲۱ کال د شروع څخه تر اوسه پورې IOM د کډوالو روغتیا پروګرام په نیمروز، هرات، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ۱۵۶،۰۲۸ کورنیو ته د لومړنیو لازمي روغتیا پاملرنې خدماتو عمومي ناروغیو ، مور ، ماشوم او نوي زیږون روغتیایي پاملرنې ، د زیږون روغتیا ، کورنۍ د پلان کولو د کویت ۱۹ خدمات وړاندی کړی دی. او دا برنامه د انګلستان (FDCO) ، د اروپايي اتحادیې ((ECHO د افغانستان بشردوستانه وجهي صندوق او د متحده ایالاتو د نفوس ، کډوالۍ او مهاجرت (BPRM) لخوا یې مالی ملاتړ کیږي .

د تیرې اونۍ په جریان کې په مجموعي توګه ۳،۸۴۸ مریضانو د IOM اوو ګرځنده روغتیایي ټیمونو لخوا خدمات وړاندی کړی دي چې ۳،۴۲۲ بستر ناروغانو ته مشورې، ۳،۸۴۸ ښځو او نارینو ته د ټولنې په کچه روغتیا تعلیم زده کړې ناستې او ۷۸۸ ناروغانو ته رواني مشورتي ناستې ترسره شوې دی.

د کډوالو روغتیا پروګرام د نړیوال وجهي صندوق او د څو هیوادونو د نری رنځ او د UNDP سره په ملګرتیا فنډ لاندې د نری رنځ په ټولیز ډول ۱۰،۰۳۲ بې اسناده افغان کډوال هرات، نیمروز، کندهار او ننګرهار ترانزیټ مرکزونو کې دتشخیص لپاره معاینه شوی چې ددې جملې څخه ۳۱۱ ناروغان چې په نري رنځ اخته (ګومان کیږي) قضیې پیژندل شوی د شکمنو قضیو څخه نمونې د جین ایکسپرټ او نورمال مایکروسکوپي له لارې د TB کنټرول ملي برنامې سره په همغږۍ کې په ټاکل شوي لابراتوارونو کې ازمول شوی دی. البته دنیری رنځ ۳ مثبتې پیښه ثبت شوی ده.

**خوندیتوب:** د IOM د خوندیتوب برنامې په ۲۰۲۱ جریان کی ۱،۱۵۰ غیر راجستر کورنیو سره چې ځانګړې قضیې هم په کې شاملې دی مرستې تر سره کړی چې په وخت سره معلوماتو چمتو کول، خدماتو ته په وقار او خوندي ډول لاسرسي اسانولو، او د پیسو په شمول د مرستې چمتو کول ترڅو ددې لارې د خوندیتوب پیژندل شویو خطراتو کمولو لپاره او منفي تاکتیک میکانیزمونو څخه مخنیوی کول کله چې د راجع کولو خلا موجوده وه. د سکرینینګ کارمندانو سره چې د هرات او نیمروز په سرحدي نقطو او همدارنګه د بیرته راستنیدنې په ۱۲ ولایتونو کې کار کونکې کار کوي. د خوندیتوب په برخه کې ۹۷ نیویو قضیو ارزونه په نیمروز، غور، بلخ، بدخشان، فاریاب، هرات، تخار، ننګرهار، کندز، سرپل او کابل ولایتونو کې بشپړه شوی ده، چې په دې ارزونه کې پلار، ۸ شدیدی طبی قضیې، ۹ ښځې په خطر کې، ۱۰ د معلولیت قضی،۲۱ ماشومان په خطر کې، ۲ تنها ماشومان او ۶ تنها مور او پلار قضیو سره مرستې ترسره شوی دی. او ۴۹۹ د ځانګړو ضروتونو لرونکو او کورنۍ په میلک او اسلام قلعه کی د کډوالو چار و ریاست سره په هغمږی سره سکرین کړی دی. ۱۷ غیر راجستر راستانه شوی کورنۍ چې ۴۰ انفرادی غړی کیږی د رارسیدو څخه وروسته مرستې ترلاسه کړې چې د بیلګې په توګه (ګرځنده تلیفونونه ، د کورنۍ تعقیب، او د لاری کرایه)، ۲۴ ځانګړو قضیو سره نغدی مرسته شوی ده او همدارنګه ۹۷ فضیو لپاره د قضیو مدیریت ارزونه ترسره شوې ده.



د IOM ګرځنده روغتیا ټیمونه د کندهار په ولایت کې د بې ځایه شویو سیمو کې د ماشوم او میندو پاملرنې په شمول لومړني روغتیایی خدمات وړاندی کوی، بدبختانه ، د نوي تمویل رسیدولو پرته ، د IOM د ساحوی روغتیایی ټیمونو څخه نیمایي به د جون په ۲۰۲۱ وتړی. @ای او ام ، اپریل ۲۰۲۱.

## د ایران څخه راستنېدنه:

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۲۶،۴۹۲ بې اسناده افغان کډوال په خپله خوښه د نیمروز (میلک) او هرات (اسلام قلعه) له لارې د ۲۰۲۱ میلادی کال د ۱۶ اپریل څخه د اپریل تر ۲۲ نېټې پورې بیرته هېواد ته راستانه شوي او یا شړل شوي دي، چې ۱۱،۴۶۰ افراد په خپله خوښه راستانه شوی او۱۵،۰۳۲ شړل شوی دي، د تیرې اونۍ څخه د راستنیدو په مجموعي شمیر کې ٪۱۷ کموالی راغلی دی.

د ۲۰۲۱ لمریز کال دجنورۍ د لومړۍ نېټې څخه تر اوسه پورې په عمومي توګه (۳۴۱،۰۸۶) بې اسناده افغان کډوال د ایران څخه راستانه شوی دي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مجموعي توګه د ایران څخه ۷۳۷ بې اسناده افغان کډوال چې (٪۳) سلنه کیږي د ایران څخه د رارسیدو وروسته بشري مرستې دهرات او نیمروز عبوری مرکزونو کې ترسره کړي دی.

د پولې له لارې راستېدنې پروګرام په ۲۰۲۱ لمریز کال کې **۲۹،۷** میلونونه ډالرو ته اړتیا لری چې په تخمینې توګه **۶۵۴،۰۰۰** افغان راستنیدونکو کډوالو ته پرې خدمات وړاندی کړی. هغه شمیره چې احتمال شتون لري د موجوده راستنېدنې ته په کتو سره زیات شی، ای او ام د خپلې لارمو مرستو څخه یوازې ٪۵ سلنه ترلاسه کړې ده. د اضافي ملاتړ پرته د پولې په کچه راستنیدنې مرکزونو کې بشري فعالیتونه د جولای په میاشت کې د ځنډ سره مخ شي، سره له دی چې مرستې په پرتلیزو ډول سره د بشری اړتیاوې هم په اونۍ په محدودیت کیږی.

## د کوید-۱۹ معلومات:

د کډوالۍ نړیوال سازمان د عامې روغیتا وزارت او د روغتیا نړیوال سازمان سره د کویت-۱۹ ویروس په خپریدو غبرګون کی فعاله توګه مرسته کوي. **د مارچ په ۲۵ نیټه، IOM خپل ۲۰۲۱ نړیوال کویډ-۱۹ اپیل پیل کړه - ستراتیژیک غبرګون او ژغورنې پلان، ای او ام اداره په افغانستان په ۲۰۲۱ لمریز کال کې ۱۷ ملیون ډالرو په لټه کې دی ترڅو خپلو هڅو ته دوام ورکړي. زیات معلوماتو** [دلته](#) **شتون لري.** په فعالیتونو کې د لومړۍ کرښې روغتیایي کارمندانو لپاره روزنه ، د اړتیا په سیمو کې د کارمندانو ګمارل په شمول د روغتیایي مرکزونو او هلته یې بیا ځای پرځای کول، د پولې څارنې لپاره اضافي کارمندان په دنده ګمارل، د ځان محافظتی او نورو تجهیزاتو، د امبولانس په بنسټ ریفرل خدمات او د ټولنې په کچه د عامه پوهاوې فعالیتونه په شمول د بې ځایه کیدنې تعقیبې میټریکس ګروپي بحثونو له لارې په ۱۲،۶۰۰ نقطو په ۳۴ ولایتونو کې تر سره کړی دی.

مور سره اړیکه ونیسی
I OM Kabul : nbishop@iom.int

## د پاکستان څخه راستنېدنه:

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۴،۲۸۰ بې اسناده افغانان په خپله خوښه د پاکستان څخه د ۲۰۲۱ جنورۍ د ۱ نېټې څخه بیرته خپل هیوادا ته راستانه شوي دي. د تیرې په اوونۍ کې په مجموعي توګه ۸۵ بې اسناده افغان ګډوال چې (۱۸ راستانه شویو کورنۍ غړی او ۱۹ شړل شوی کسان) د تورخم او ( ۴۸ راستانه شویو کورنۍ غړی ) د سپین بولدک پولې له لارې له پاکستان څخه بیرته خپل هیواد ته راستانه شوي

### په ۲۰۲۱ کال کې د بې اسناده راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نېټه | ایران | | | | د ایران مجموعه | پاکستان | | | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | | تورخم | | قندهار | | | |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۰۱ جنوری -۳۱ مارچ | 76,857 | 60,246 | 32,859 | 76,362 | 246,324 | 1663 | 132 | 1320 | 165 | 3280 | 249,604 |
| ۰۱ -۰۸ اپریل | 10,532 | 7,295 | 4,702 | 13,908 | 36,437 | 88 | 5 | 484 | 0 | 577 | 37,014 |
| ۰۹ -۱۵ اپریل | 11,149 | 6,034 | 2,798 | 11,852 | 31,833 | 70 | 10 | 199 | 59 | 338 | 32,171 |
| ۱۶ -۲۲ اپریل | 9,723 | 7,082 | 1,737 | 7,950 | 26,492 | 18 | 19 | 48 | 0 | 85 | 26,577 |
| **مجموعه** | **108,261** | **80,657** | **42,096** | **110,072** | **341086** | **1,839** | **166** | **2,051** | **224** | **4,280** | **345,366** |

### په ۲۰۲۱ کال کې د مرسته شویو راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نېټه | ایران | | | | د ایران مجموعه | پاکستان | | | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | | تورخم | | قندهار | | | |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۰۱ جنوری -۳۱ مارچ | 902 | 4,849 | 638 | 7,250 | 13,639 | 247 | 160 | 2606 | 99 | 3112 | 16,751 |
| ۰۱ -۰۸ اپریل | 130 | 714 | 40 | 942 | 1,826 | 88 | 5 | 471 | 0 | 564 | 2,390 |
| ۰۹ -۱۵ اپریل | 83 | 597 | 5 | 559 | 1,244 | 60 | 10 | 199 | 58 | 327 | 1,571 |
| ۱۶ -۲۲ اپریل | 38 | 397 | 11 | 291 | 737 | 18 | 18 | 48 | 0 | 84 | 821 |
| **مجموعه** | **1,153** | **6,557** | **694** | **9,042** | **17,446** | **413** | **193** | **3,324** | **157** | **4,087** | **21,533** |

د ایران څخه د غیر راجستر کډوالو راستنیدنه (۲۰۱۹- ۲۰۲۱)




په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له ټولو لاندینو بسپنه ورکونکوو ، تمویلونکو نه مننه او قدرداني څرګندوی. د نومړو تمویلونکو ، مالي ملاتړو په مرسته د کډوالۍ نړیوال سازمان وتوانید چې په ۲۰۲۱ میلاد کال کې ۲۱،۵۳۳ بې اسناده افغان ګډوالو سره مرسته ترسره کړه.

The Global Fund
To Fight AIDS, Tuberculosis and Malaria
United Nations CERF Central Emergency Response Fund

in coordination with

ناروې، جاپان، سویس، ایکو (د اروپایي اتحادیې بشري مرستو څانګه) د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق (CERF) او د نړۍ رنځ، ایډز او ملاریا نړیوال وجهي صندوق.